جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
معینیت عواید وگمرکات
ریاست عمومی عواید

دافغانستان اسلامی جمهوریت
د مالیی وزارت
د گمرکونو او عوایدو معینیت
دعوایدو لوی ریاست

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Finance
Afghanistan Revenue Department

د عوایدو د حقوقي خدمتونو او پالیسی ریاست

# د مالیې د بیرته ورکړې طرزالعمل

گڼه: [9]

نیټه: 2/1/١٣٩٧

**مقدمه:**

د مالیاتو د چارو د اداري قانون د پنځمې مادې مطابق د مالیه ورکوونکو له اساسي حقوقو څخه یو یې لکه څنګه چې په مالیاتي قوانینو کې وړاندې شوې ده، د اضافي ورکړل شوې مالیې ترلاسه کول یا مجرا کول دي.

اوسمهال له یوه پلوه د اضافه ورکړې د اجراء لپاره د جامع او واحد طرزالعمل نشتون، او له بل پلوه په ځینې مواردو کې د مالیاتي بررسی ټیټ کیفیت د اضافي مالیې په بیرته ورکړه کې عمده ننګونه ګڼل کیږي.

هغه کلیدی اجراآت چې د مالیاتي اداري لخوا د اضافي مالیې د بیرته ورکړې یا مجرایی په بحث کې تر لاس لاندې نیول کیږي، هغه د بیرته ورکړې د غوښتنلیکونو د اغیزمن مدیریت، په روڼ ډول د بیرته ورکړې وړ مالیې سم تثبیت او د مالیاتي قوانینو د حکمونو مطابق د هغو له مجرا کولو څخه عبارت دي. له بل پلوه، د اضافي ورکړل شوې مالیې د بیرته ورکړې یا مجرایی د غوښتنلیکونو د ارزیابی په بهیر کې د مالیه ورکوونکو د حقونو د تضمین او همداشان د خطر د ساحو او د هغه ساحو ارزونه چې د فساد موارد پکې شتون ولري، په هراړخیز ډول په پام کې ونیول شي ترڅو د اضافي ورکړل شوې مالیې تر نامه لاندې هیڅ مبلغ هم په غیر قانوني ډول د دولت له خزانې څخه د قانون د حکم پرته افرادو او اشخاصو ته اعاده نشي.

د پورتنیو ملاحظاتو پر بنسټ، ایجاب کوي ترڅو د بیرته ورکړې یا مجرایی د اجرایوي کیدو په برخه کې لکه څرنګه چې په نافذه مالیاتي قوانینو کې وړاندوینه شوې ده، یو  جامع او روښانه طرزالعمل چې د بیرته ورکړې د بهیر ټول مراحل پکې تشریح شوي وي، چمتو او د اجراء وړ وګرځي.

**مبنی:**

دغه طرزالعمل د مالیات چارو د اداري قانون د دوه شپیتمې مادې مطابق چې د 1394 کال د لړم (عقرب) د میاشتې په 27 نیټه په (1198) ګڼې رسمي جریده کې خپور شوی دی، ، وضع شوی دی.

**موخې:**

دغه طرزالعمل لاندې موخې لري:

١. د مالیاتی چارو د اداري قانون مطابق د اضافي ورکړل شوې مالیې د بیرته ورکړې د اجراء کولو اړوندو چارو توضیح؛
٢. پر وخت باندې د بیرته ورکړو د طی مراحل کولو په تړاو د مالیاتی چارو د اداري قانون له بنه تطبیق څخه ډاډ ترلاسه کول؛
٣. د بیرته ورکړې پروسې ته د دوسیو راجع کولو لپاره د روڼ او چټک بهیر ایجادول؛
٤. د فساد د فرصتونو محدودول؛
٥. د بیرته ورکړې د ادعاوو حمایوي سندونو د کره ارزونی او همدا شان په بیرته ورکړه کی د فساد خطر د خارلو په ګډون، د بیرته ورکړو اړوند خطرونو مدیریت؛
٦. د مالیې بیرته ورکړې اړوند د بعدي بررسی د فعالیتونو پیژندنه.

**د مالیاتو چارو د اداري قانون مطابق د بیرته ورکړې ډول:**

د مالیاتو د چارو د اداري قانون شپیتمه او دوه شپیتمه ماده د بی ته ورکړې طرزالعمل په اړه په بشپړ ډول صراحت لري. د اضافی ورکړل شوې مالیې د بیرته ورکړې د اجرایوي کیدو په اړه مفصله لارښونه د مالیاتو چارو د اداري قانون په تعلیماتنامه کې وړاندې شوې ده ( د تعلیماتنامې له ٦٠.١ څخه ٦١.٩ مادو توضیحاتو ته رجوع وکړی).

مالیه ورکوونکي د مالیاتو د چارو داداري قانون د شپیتمې مادې د حکم مطابق د بیرته ورکړې مستحق ګڼل شوي او د یاد قانون د یو شپیتمې مادې د حکم مطابق اضافه ورکړل شوی مبلغ کیدای شي چې مالیه ورکوونکي ته اعاده یا مجرایي یې ورکړل شي. مالیاتي

اداره باید د هغه ټاکل شویو لارو سره خپل اجراآت عیار او د هغو مطابق عمل وکړي چې د مالیاتو د چارو د اداري قانون، د مالیاتو چارو د اداري قانون تعلیماتنامه او په دغه طرزالعمل کې یې وړاندوینه شوې ده.

**د بیرته ورکړې خدمتونو موده:**

د مالیاتو د چارو د اداري په قانون کې د بیرته ورکړې ادعا د غوښتنلیکونو د طی مراحل کولو په اړه کومه مشخصه موده وړاندې شوې نه ده. په دې صورت کې مالیاتي اداره د قانون مطابق د ټاکل شوې مودې تابع نه کیږي، مګر د ښه خدمتونو او آسانتیاوو راوستلو او په معیاري ډول د قانون له تطبیق څخه مالیه ورکوونکي ته ډاډ ورکولو په موخه، باید هڅه وکړي ترڅو د بیرته ورکړې د ادعا غوښتنلیک، د غوښتنلیک او د تصمیم نیولو لپاره د اړینو معلوماتو له ترلاسو څخه وروسته، د 90 ورځو په ترڅ کې طی مراحل او په دې اړه خپل نیول شوی تصمیم مالیه ورکوونکي ته ابلاغ کړي.

**د مالیې د بیرته ورکړې د اطاعت پذیرۍ خطرونه:**

په عمومي ډول، د مالیې د بیرته ورکړې د اطاعت پذیرۍ احتمالي خطرونه په دریو عمده ډولونو باندې ویشل کیږي:

۱. تقلب (د جرمي فعالیت په ګډون)؛

۲. عمدي(قصدي) عدم اطاعت پذیري؛

۳. غیر عمدي اشتباه(مالیه ورکوونکی یا اداره).

د هغه مالیاتو بیرته ورکړې خطرونه چې پخوا د وړاندې ورکړې په توګه ورکول شوي دي، اوس مهال ډیر زیات دی. دغه امر د هغه مالیه ورکوونکو په تړاو رامنځته کیږي چې خپله مالیه یې د وړاندې ورکړې په توګه یا یې د بل شخص له لارې ورکړې وي.

د بیرته ورکړې وړ مالیې تثبیت باید د قانون د حکمونو، د تعلیماتنامې او د دې طرزالعمل مطابق د حسابي د سندونو او په قانوني توګه تثبیت شي، مالیه ورکوونکی دې د بیرته ورکړې مستحق وپیژندل شي، او مالیه ورکوونکي ته د مالیې د اعادې یا محرایی په اړه اقدام وشي.

**د وخت محدودیتونه:**

د مالیاتو د چارو د اداري قانون د شپیتمې مادې د (2) فقرې مطابق مالیه ورکوونکی هغه مهال د بیرته ورکړې مستحق ګڼل کیږي چې د اضافي مالیې د ورکړې له نیټې څخه د 5 کلونو په موده کې په لیکلي ډول د بیرته ورکړې دعوا وکړي.

**د مالیې د بیرته ورکړې د ارزیابی موارد:**

مالیاتي اداره د مالیه ورکوونکو د بیرته ورکړې د ادعاوو د ارزونې (د بررسی مرحله) په جریان کې، باید د لاندې مواردو ارزونه په پام کې ونیسي:


- آیا مالیه ورکوونکي په لیکلي ډول د بیرته ورکړې ادعا کړې ( د بیرته ورکړې لیکلې ادعا د بیرته ورکړې د پروسې د پیل لپاره حتمي ده)؟
- آیا بیرته ورکړه د اضافي ورکړې له نیټې څخه د 5 کلونو په موده کې ادعا شوې ده؟
- آیا د مالیه ورکوونکي لخوا وړاندې شوي سندونه د بیرته ورکړې د اثبات لپاره کافي دي؟
- د مالیه ورکوونکي د اطاعت پذیرۍ خطر څرنګه دی، د بیرته ورکړې عمومي خطر څه دی (د اشتباګانو ارزیابي او داسې نور)؟
- آیا مالیه ورکوونکی مالیاتي مکلفیت یا نه ورکړل شوی ګمرکي محصول لري؟
- مالیه ورکوونکي د بیرته ورکړې د ادعا په غوښتنلیک کې په مشخص ډول د څه غوښتنه کړې ده؟
  - د مالیه ورکوونکي د راتلونکو مالیاتي مکلفیتونو او ګمرکي محصول پر وړاندې مجرایي؛

- د بل شخص د مالیاتي وجایبو مجرایي (که چیرې چې مالیه ورکوونکی مالیاتي مکلفیت یا نه ورکړل شوی ګمرکي محصول ونلري او په صراحت سره دا ډول غوښتنه ولري)؛
- مالیه ورکوونکي ته بیرته ورکړه (که چیرې چې مالیه ورکوونکی مالیاتي مکلفیت یا نه ورکړل شوی ګمرکي محصول ونلري)؛

- آیا مالیه ورکوونکي د بیرته ورکړې د طی مراحل لپاره د خپل بانکي حساب جزئیات وړاندې کړي دي؟ (دا امر خورا زیات مهم دی ځکه چې مالیه ورکوونکي ته بیرته ورکړې باید په ځانګړي ډول د بانکي حساب د تحویلی له لارې ترسره شي نه په نقدي ډول)؛
- اړونده مالیاتي اداره چې مالیه ورکوونکی پکې ثبت دی، د اضافي ورکړې د طی مراحل لپاره د مالیه ورکوونکي دوسیې له ارجاع څخه وړاندې مکلفه ده ترڅو د پورتنیو مواردو ارزیابي ترسره او ارزول شوي اسناد د مالیه ورکوونکي له دوسیې سره مل او د بیرته ورکړې د ادعا په اړه خپل مشخص نظرونه، بعدي بررسی ته ولیږدوي.

**د مالیاتي بیرته ورکړې د ادعا په اړه د تصمیم نیولو مرحلې:**

د بیرته ورکړې لپاره د یوه مالیه ورکوونکي په شرایطو برابر کیدو په اړه د تصمیم نیولو په مراحلو کې لاندې مرحلې شاملیږي:




**د اضافي ورکړل شوي مالیې د تثبیت مراحل:**

۱. هغه مالیه ورکوونکی چې د بیرته ورکړې ادعا لري، مکلف دی ترڅو د مالیاتو چارو د اداري قانون د شپیتمې مادې د(2) فقرې د حکم مطابق د وخت په تاکل شوې محدوده کې د بیرته ورکړې غوښتنلیک د تعلیماتنامې او د دې طرزالعمل د

هدایت مطابق اړوندې مالیاتي ادارې ته وړاندې کړي. بیرته ورکړې غوښتنلیک د اړوندې ادارې د صلاحیت لرونکي مقام لخوا د کتنې څخه وروسته ثبت او د مالیه ورکوونکي د دوسیه د ارزیابی او د ابتدایي اضافي ورکړې د تثبیت په موخه د اړوندې مالیاتي ادارې د بررسی برخې ته راجع کیږي.

۲. په لومړي ګام کې د بیرته ورکړې غوښتنلیک د حسابی معیارونو، د بررسی تعلیماتنامې او دې طرزالعمل ته په پام سره د اړوندې مالیاتي ادارې د بررسی د برخې لخوا بررسي کیږي او د بررسی د بشپړیدو او د مالیې له تثبیت څخه وروسته، د مالیه ورکوونکي دوسیه د بیرته ورکړې د ادعا غوښتنلیک، د اضافي ورکړې د تثبیت په تړاو د بررسی له پایلو سره یوځای د نهایي طی مراحل لپاره د بعدي بررسی برخې ته راجع کیږي.

۳. د بعدي بررسی برخه د مالیه ورکوونکي دوسیه لاندې مراحل په پام کې نیولو سره سم ارزیابي کوي او د بیرته ورکړې د تائید، تعدیل، یا رد په اړه خپله پریکړه کوي:

۳.۱ په لومړي ګام کې د مالیه ورکوونکي دوسیه د بعدي بررسی لخوا هم د سندونو د بشپړوالي او هم د بررسی د کیفیت له نظره چې د مالیاتي ادارې لخوا ترسره شوې، ارزیابي کیږي، او د نافذه قوانینو د حکمونو مطابق او د حسابی د معیارونو سره سم د سندونو د بشپړوالي او د بررسی له کیفیت څخه ډاډ ترلاسه کیږي.

۳.۲ که چیرې په سندونو او د مالیه ورکوونکي په دوسیې او د بیرته ورکړې د تشخیص او تثبیت لپاره د بیرته ورکړې په غوښتنلیک کې معلومات کافي نه وي، یا د بررسې پایله د مالیاتي قوانینو له حکمونو او د حسابی له معیارونو سره مطابقت ونلري، د بعدي بررسی مسؤلین باید له اړوندې مالیاتي ادارې څخه د ټاکل شوي وخت په چوکاټ کې اضافي معلومات وغواړي.

۳.۳ که چیرې د مالیه ورکوونکي یا د مالیاتي ادارې لخوا وړاندې شوي اسناد کافي نه وي یا هم شکمن معلوم شي، د بعدي بررسی مسؤلین لکه څنګه چې په قانون کې یې وړاندوینه شوې ده، له مالیاتي ادارې یا له درییم شخص څخه د معلوماتو غوښتنه کوي.

۳.٤ که چیرې د بررسی پایله او د مالیه ورکوونکي په دوسیه کې شامل سندونه بشپړ او بررسي په سم ډول یا د دې برخې د (۳.۲، ۳.۳) جزء مطابق ترسره شوي وي، د بیرته ورکړې د غوښتنې په اړه د تائیدی، تعدیل یا رد پریکړه نیول کیږي او راپور یې د منظورۍ په موخه په دې طرزالعمل کې لیکل شوي صلاحیت لرونکي مقام ته وړاندې کیږي.

۳.٥ که چیرې په (۳.٤) جزء کې لیکل شوې پریکړه د صلاحیت لرونکي مقام لخوا منظور شي، مالیه ورکوونکي ته د خبرتیا او د راتلونکو اجراآتو په موخه په رسمي ډول اړوندې مالیاتي ادارې ته صادر کیږی.

**د بیرته ورکړې مجرایي، لیږد او ورکړه:**

اړونده مالیاتي اداره د تثبیت شوي اضافي تحویلی د مبلغ د مجرایي، لیږد یا بیرته ورکړې په اړه په لاندې ډول اجراآت کوي:

۱. د مخکینیو مرحلو مطابق د نیول شوې پریکړې له مخې، د دولت د حقوقو د تضمین او د بیرته ورکړې په اجراء کولو کې د روڼتیا په موخه، د مالیه ورکوونکي نور مالیاتي مکلفیتونه او ګمرکي محصول هم باید د ارزیابی لاندې ونیول شي [هغه دوره چې اضافي ورکړه ورپورې تړاو لري و نورې مالیاتي دورې(که چیرې شتون ولري)]. د نورو مالیاتي مکلفیتونو یا ګمرکي محصول د شتون په صورت کې، په لومړي ګام کې باید اضافي ورکړه ثابته شي و په هغه کې مجرا شي.

۲. په دوییم ګام کې که چیرې مالیه ورکوونکې مؤافقه وکړي، د اضافي ورکړې تثبیت شوي مبلغ د بل شخص مالیاتي باقیدارۍ یا ګمرکي محصول کې مجراء کیږي.

۳. په دریيم ګام کې د اضافي ورکړې تثبیت شوی مبلغ د مالیه ورکوونکي راتلونکي مالیاتي مکلفیتونو ته لیږدول کیږي.

٤. په څلورم ګام کې، که چیرې (٤.١ الی ٤.٣) اجزاء عملي نه وي، بودجوي امکاناتو ته په پام سره مالیه ورکوونکي ته باید بیرته ورکړه صورت وموميٍ.

٥. د بیرته ورکړې د تثبیت او تشخیص مخکینی مرحلې په رعایتولو سره، مالیه ورکوونکي ته د بیرته ورکړې د غوښتنلیک د اجراء یا رد په اړه نهایي پریکړه رسماً ابلاغ کیږي. که چیرې د اضافي ورکړې د مجرایی پریکړه د نورو مالیاتي مکلفیتونو، ګمرکی محصول یا د نورو اشخاصو د باقیاتو په اړه شوې وي، اړوندو مراجعو ته هم باید په رسمي ډول خبر ورکړل شي.

**د بیرته ورکړې د ادعا ردول:**

د بیرته ورکړې ادعا په لاندې مواردو کې مسترد کیږي:

- د بیرته ورکړې د ادعا لپاره د پنځه کلنې مودې انقضاء؛
- په هغه صورت کې چې مالیه ورکوونکي لخوا د بیرته ورکړې د ادعا د ثبوت لپاره وړاندې شوي معلومات ناکافي او غلط ثابت شي؛
- په هغه صورت کې چې د مالیاتي ادارې لخوا اضافه غوښتل شوي معلومات د مالیه ورکوونکي لخوا په ټاکل شوي ضرب العجل کې وړاندې نشي او د ذکر شوي ضرب العجل د تمدید لپاره یې غوښتنه هم کړې نه وي؛
- په هغه صورت کې چې د ارزیابی په بهیر کې د مالیاتي ادارې لخوا له دریيم شخص څخه ترلاسه شوي معلومات څرګند کړي چې مالیه ورکوونکی د بیرته ورکړې د غوښتنلیک لپاره په شرایطو برابر نه دی؛
- په هغه صورت کې چې د فساد خطر تشخیص شي او مالیاتي اداره داسې سندونو په لاس کې ولري چې ثابته کړي چې غوښتنه د جعلي سندونو، ناقصو سوابقو یا د محاسبې لاس وهل شویو سندونو پر بنسټ ترسره شوې ده.

**د نه ورکړې وړ مبلغونه:**

د نه ورکړې وړ مبلغونه لکه څنګه چې د مالیاتو د چارو د ادارې قانون د 61 مادې په 3 فقره کې یې وړاندوینه شوې ده، هغه مبلغونه دي چې له 1000 افغانیو څخه کم وي. دا ډول مبلغونه نشي کیدای چې د مالیه ورکوونکي بانکي حساب ته بیرته ورکړل شي حتی که مالیه ورکوونکي یې د بیرته ورکړې ادعا او حمایوي سندونه هم وړاندې کړي وي. بیاهم، له 1000 افغانیو څخه ټیټ مبلغونه کیدای شي چې د مالیه ورکوونکي راتلونکو مالیاتي مکلفیتونو ته ولیږدول شي. په دې توګه کله چې راتلونکي مالیاتي مکلفیتونه راڅرګندیږي، پر وړاندې یې جبران کیږي.

**د اضافي ورکړې مبلغ د تثبیت د منظورۍ واک:**

د اضافي ورکړل شوې مالیې د تثبیت راپور چې د بعدي بررسی د څانګې لخوا وړاندې کیږي، اداري سلسله مراتب رعایتولو ته په پام سره چې لاندې تشریح شوي دي، د عوایدو او ګمرکونو معینیت له مقام لخوا منظور کیږي.

١. د اضافي ورکړې مبلغ د تثبیت راپور د دې طرزالعمل د لارښونې مطابق د اړوندې مالیاتي ادارې لخوا بشپړ او وروسته د بعدي بررسی لخوا بیا ارزیابي شوی وي؛

٢. د اضافي ورکړې مبلغ د تثبیت راپور د اړوند رئیس او د عوایدو لوی رئیس لخوا تائید شوی وي؛

٣. د اضافي ورکړل شوې مالیې د تثبیت په اړه د بعدي بررسی راپور ته د عوایدو او ګمرکونو معینیت د مقام د موافقې په صورت کې، هغه منظور کیږي او د بعدي بررسی لخوا اړوندې ادارې ته مالیه ورکوونکي ته د خبرتیا ورکولو په موخه صادر کیږي.

**د بیرته ورکړې د ادعا د تصمیم خبرتیا:**

په هره قضیه کې د پورته مواردو په رعایتولو سره، د بیرته ورکړې د ادعا د منظورۍ یا رد په صورت کې، اړونده مالیاتي اداره د مالیاتو د چارو د اداري قانون د دریيمې مادې د(۱) فقرې د 7 جزء د لارښود مطابق، د مالیاتي پریکړې په صادرولو او مالیه ورکوونکي ته په لیږدولو باندې مکلفه ده. پریکړه باید له کافي توضیحاتو سره د مالیه ورکوونکي د بیرته ورکړې د ادعا د منظورۍ یا رد په اړه دلایل ولري، ترڅو مالیه ورکوونکی وکولای شي په هغه دلیلونو باندې وپوهیږي چې پر بنسټ یې پریکړه نیول شوې ده. دغه امر په ځانګړي ډول هغه مهال اړین دی چې د مالیې د بیرته ورکړې ادعا رد شوي وي او مالیه ورکوونکی په پریکړه باندې اعتراض ولري، دغه مالیاتي پریکړه کیدای شي چې د مالیه ورکوونکي لخوا د اعتراض وړاندې کولو له لارې لکه څنګه چې د مالیاتو چارو د اداري قانون په یولسمه ماده کې یې وړاندوینه شوې ده، د اعتراض لاندې ونیول شي.

**د بعدي بررسی لخوا د بیرته ورکړې د دوسیو ارزیابي:**

د بیرته ورکړې هغه دوسیه چې بعدي بررسی ته سپارل کیږي باید ټول اړوند اسناد او د اضافي ورکړې په اړه د اړوندې مالیاتي ادارې تائیدي چې د بیرته ورکړې د ادعا په اړه تصمیم نیولو کې مرسته کوي، ولري. لاندې د هغو اسنادو لست چې په معمول ډول دوسیه کې شامل وي او باید وړاندې شي، ذکر شوي دي:

- د کلني او ربعواره مالیاتي اظهارلیک کاپي؛
- د ګمرکي محصولي فورمو کاپي؛
- د ورکړل شویو معاشونو لست؛
- د لګښتونو نقل یا لست؛
- د کرایې هوکړه لیکونه؛
- د لومړي سنجش پایله (ابتدایي تحقق) چې د مالیاتي اداري لخوا ترسره شوې؛
- د نهایي بررسی پایله چې د اړوندې مالیاتي اداري د بررسی د څانګې لخوا ترسره شوې؛
- معلوماتي استعلامونه؛
- د پیرودلو سندونه؛
- د جواز کاپي؛
- تشخیصیه شمیره؛
- داساسنامې کاپي؛
- پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون د 18 مادې مطابق د غوښتنلیک فورمه؛
- د ورکړو رسید؛
- د مالیاتي اظهارلیک د تسلیمی مکتوب؛
- د تیر کال د بررسی د پایلی کاپي، هغه کال چې اضافي ورکړې ورپورې تړاو ولري؛
- د بررسی د هیئت معرفي کولو مکتوب.

د بعدي بررسی رول د بیرته ورکړې د ادعا په تصمیم نیولو کې له معین، د عوایدو لوی رئیس او د حقوقي خدمتونو له رئیس څخه ملاتړ کول دي، او د بشپړ شویو دوسیو د بعدي بررسی ارزونې اجراء د ناسمو بیرته ورکړو د مخنیوي او د وخت په تیریدو سره د بیرته ورکړې طرزالعمل د ښوالي په موخه، صورت مومي.

**بیرته ورکړل شوي ناسم مالیات:**

که چیرې مالیه ورکوونکي ته بیرته ورکړه ترسره شوې وي او وروسته ثابته شي چې مالیه ورکوونکی د بیرته ورکړې لپاره په شرایطو برابر نه دی (د اشتباه، جعل یا نورو دلیلونو له امله)، د مالیاتو د چارو د اداري قانون د شپیتمې مادې د (3) فقرې مطابق د بیرته ورکړې د اجراء په اړه نیول شوې پریکړه لغوه او مالیه ورکوونکي ته په رسمي ډول خبر ورکول کیږي. په دا ډول مواردو کې بیرته ورکړل شوی مبلغ له هغې نیټې څخه چې مالیه ورکوونکي ته تادیه شوی دی، د ورکولو وړ مالیې په توګه ګڼل کیږي. د مالیاتو د چارو د اداري قانون د څلور دیرشمې مادې مطابق د بیرته ورکړې له نیټې څخه تر هغه وخته پورې چې مبلغ بیرته د دولت حساب ته ورکول کیږي، په بیرته ورکړل شوي مبلغ باندې اضافي مالیه هم تطبیقیږي.

**د انفاذ نیټه:**

۱. دغه طرزالعمل د منظورۍ له نیټې څخه نافذ او ټولې مالیاتي اداري یې پر تطبیق باندې مکلفې دي.

۲. د نورو طرزالعملونو سره د دې طرزالعمل د مغایرت په صورت کې، دا طرزالعمل د تطبیق وړ دی.

نصرالله درانی
د پالیسۍ آمر

عبدالولی نوری
د حقوقي خدمتونو رئیس

عبدالحبیب څدران
د عوایدو لوی رئیس

وکتل شو
منظور دی

داکټر نجیب الله وردګ
د عوایدو او ګمرکونو معین